# لومړی څپرکی

## د ســــړې جـګړې پیژندنـه او تاریخی سیر

**لومړی مبحث : د ســــړې جـګړې پیژندنه : -** دغې جګړې ته سیاست پوهانو بیلا بیل تعریفونه کړي چه یو څو یې په لاندې ډول دي:

۱- سړه جګړه د نړی د هغه دوه دښمن زبر ځواکونو د اړیکو د خرابوالی څخه عبارت ده چه د سلاح د استعمال څخه پکې ډډه شوی ،چه پدې ناندریزه جګړه کې هر اړخ کوشش کوی چه د خپل دوست هیوادونوسره د امنیت ځینې معاهدې لاسلیک کړي او ترڅنګ یې په اقتصادي مرستو سره ونازوي ،ترڅو په یو واحد قوت سره خپل دښمن طرف ته پروپاګنډی له لارې په نړیواله کچه صدمه ورسوي او یا یې نړیوال حیثت د سوال لاندې راولي، سړه جګړه د دویمې نړیوالې جګړې په پای کال (۱۹۴۵م)کې دلودیځې نړی په خاص ډول د امریکې او پخواني شـوروي تر منځ پیل کیږې او کال (۱۹۹۰م)کې چه د شوروي اتحاد سیـاسـي رژیم او د وارسا پکټ ړنګیږي پای ته رسیږی.

۲- سړه جګړه د نه وژونکو الاتوداستعمال اود هغې جګړې څخه عبارت ده چه ډیر لوی اهداف او موخې لري ددې جګړې مشکلاتو کې کله هم د قومونو ترمنځ د اصلي جنګ شکل ندې غوره کړي بلکې د مخالفو قوتونو د یو اقتصادي او ډیپلوماتیکي کشمکش برقرار وي .د سړې جګړې اصطلاح په لومړي ځل یو امریکایي چه (والترلیپمان) نومیده استعمال کړه ، دا لفظ د شوروي او امریکې ترمنځ د مخالفت د پالیسی داقتصادي او فوځي نظام د بیانولو لپاره استعمال کړاي شوه د اقتصاد اوتبلغاتو په زور تر سره کیږي د غرب په وینا سړه جګړه هغه وخت پیل شوه کله چه ستالین په برطانیه او

**امريکا باندې دا تور ولګوه چه هغوی په غربي اروپا کې د کپټا ليزم اوصدارتي نظام دمحکموالی کوشش کوي.**

**۳- د سوړ جنګ اصطلاح د لوموړی ځل لپاره امریکایي (والټر لیپمین) استعمال کړه دا لفظ د امریکې او پخواني شوروي چې دواړه زبر ځواکونه وو او دهغوی تر منځ دشدید مخالفت پالیسیو په اساس استعمال کړی شوه . شوروي او امریکا ترمنځ روابط د دوهمې نړیوالي جګړې ورسته چه کوم شکل اختیار کړو دغه حالت د سوړ جنګ په نامه نومولی شو. دا په دی معنی چه کله دا دوه مخالف قوتونه یو دبل نه د مخکېدو او یو د بل د را پر ځیدو کوشش کولو نو ځکه دی ته سوړ جنګ ویلی کیږی.چه په دې کې د توپونو او ټانکونو استعمال نه کیږي بلکې دا یوسیاسي جنګ دی،چه په هغې کې یو د بل نه په اقتصادي او نظامي برخه کې دمخکې کېدو کوشش کوی، د سوړ جنګ په دوران کې شوروي او امریکا دخپلو ګټواومفاداتو په نظر کې نیولوسره داسې پا لیسۍ جوړی کړی او داسې اقدامات یې وکړل چې د هغې په اثر د دوی روابط نورهم کړکېچن شول کله چه شوروي امریکا په اروپا کې د خپلو دوستانو سره د یوغټ طاقت په څیر راڅرګند شول نو پدې وخت کې په اروپا کې د خپګان سلسله شروع شوه ،د لودیځ او د ختیځ تر منځ د سوړ جنګ شکل یې اختیار کړو چه په مکمل ډول په اقتصادي لګښتونو او پروپاګندی باندې کیږي،په لودیځ کې سوړ جنګ هغه وخت پیل شو کله چه سټالین په شرقي اروپا کې دشوروي په نظریاتو او اجتماعي کنترول په قایمولو باندې زور ورکړو چه په دې طریقه سټالین په برطانیه او امریکا تور ولګوو چې لودیځه اروپا کې سرمایه داري نظام او د صدارتي نظام مستحکم کولو په لړ کې انزوز بلاک جوړوی ،**

## دویم مبحث:د سړې جګړې تاریخي سیر :-

دویمي نړیوالې جګړې ورسته سړه جګړه د جیوپولیتکي له پلوه په لومړی پړاو کې د کنترول پر سر اوبیا په نړی د برتری او تسلط پر سر باندې وه ،د دواړو خواو څخه هر یو دیته ځیر وه چې د اسیا ختیځو یا لویدیځو څنډو باندې کنټرول لاس ته راوړی ،اویا مقابل لوري ته لاره بنده کړې چې همدې موخو د دغو سیالیو جیوستراتیژیکي پایله ټاکله .

د اختلاف وړ موضوعاتو څخه هغه مفاهم هم وه چې له ایډیالوژیو څخه رابرسیره کېدل لکه تولنیزسازمان ،ان تردې چې بشریت نه یواځې جیوپولیتیک زمینه کې دفلسفي په نړئ کې راپارونونکي او دمناقشی وړ وه ، اوبلاخره سړه جګړه وروسته (۴۵) کلنو کې دیوشمیر نورو فرعی نښتو سره چې نظامي بڼه یې لرله پای ته ورسیده دې ته په پاملرنه چې پخوانی (۴۵) کلنو ته مو دیو ډول سړې جګړې تعریف ورکړ.

ښایي چې پدې ځای کې د ځینو هغه مفاهیمو څخه کار واخلو چې د جګړو د معمولو نتایجو څخه شمیرل کیږې یعنی هغه کلیمات او مفاهیم لکه بریالیتوب ، شکست ، تسلیم او د جګړې څخه وروسته ترتیبات سړه جګړه لکه د نورو نظامي نښتو په شان د یوی لورې په شکست او بل لورې په بري پای ته رسیږی ، د هغو حساسیت لرونکو نښو سره چې ځینو غربی نازک دلیان او ماتی خوړلي شرقي بلاک رهبران یې لری بیا هم نشو کولی لدې واقیعت څخه انکاروکړو تر (۱۹۵۶) ع کال پورې داسې ممکنه وه چې په غرب کې د ځینو بری د شوروي له واک څخه د مرکزی اروپا خلاصول باله ، خو دمجاریستان دشورش په وخت کې دازادئ ورکولو په هکله شعوري جنبه درلودله وروسته د هغه زیات شمیر غربیان چې ددی قضې سره یې په جدي توګه چلند کوه احتملاً بری یې هغه څه باله چې دلاندینو موافقو لرونکې وه . د دواړو المانونو دپاره یووالی د دواړو طرفونو په موافقه یا اقلاً دشرقې المان بی طرفه کېدل ،کوم چې غربیان او خپله المان دهغې منلوته چمتو وه د المان بی طرفئ او په عینې حال کي دهغې یوځای کېدل ، نا تو او وارسا لخوا دیوموافقت نامې لاسلیک د دواړو خواو دعساکرو د کمښت او د مسکو او د مرکزي اروپا دهیوادونو ترمنځ د سیاسي ،نظامي اړیکو ټینګېدل او د ازادو رژیمونو منځ ته راتګ دشوروي په اقمارو(داصطلاح په غرب کې د پخواني شوروي اتحاد ترنفوذ لاندې هیوادونوته استعمالیده )هیوادونوکې د یادونی وړه ده چې زیات شمیر غربي لیبرالانو کاملاً ددغې ډول موافقې سره پخلاینه درلوده ، لنده داچې بری داسې تعریف کېده چې له بې لابیلو اړخو څخه د یالټا دموافقت نامی دغرب برداشت سره مطابقت درلودل یعنی په مرکزی اروپا کې

**دشوروي دنفوذ لاندې سيمو بې خطره کېدل او له غربی اروپا سره د امریکا د اړیکو منل دشوروي له لورې دغو هیوادونو جاپان او جنوبی کوریا سره د امریکا داړیکو منل د شوروي اتحاد سره ښکاره خبره ده چې د غرب توندرو اقلیت پورته پیژندنه ناسمه بللی وه د لیبرالانو هماغه حال هم په کُلی ډول سره موجوده وضعه دمنلو په خاطر د سړې جګړې د پای ته رسولو لپاره د بهانې په ډول دمنلو وړ نه وه .**

**د کمونیزم د ایډیالوژۍ د نهایي هدف په پام کې نیولو سره او همدارنګه دشوروي د واقعي قدرت د محدود کولو او د هغوی د بري په پام کې نیولو سره د بري مفهوم پیژندنه د روسانو له نظره تر یو حده مشکل کار وه برسیره پردې رایډیکالو روسانو پرله پسې ډول باندې په فعاله شکل د جهاني انقلاب په هڅه کې وه او د داسې چارو په لټه کې وه چې وروسته له جنګ څخه دهماغه دوران دکپیټالیزم دعمومی دروان څخه عبارت دی .**

**حال داچې محافظه کاران پدې عقیده وه چې مصلحت د ا ایجابوي چې په اوله درجه کې دی شوروي وساتل شي اساسي تصورات دا وه چې جیوستراتیژیکي اصلي مفکوره چې شوروي د (۱۹۴۰) م کال وخت کې د بري په صورت کې د خبرو اترو په حدود کې وساتل شی ، هتلر او ستالین داعقیده درلوده چې امریکا باید اسیا او اروپا کې هر ډول فعالیت اجرا نکړي او دا ټکي د سړې جګړې په وخت کې دروسانو یو هدف وه .**

**له همدې امله معقوله ښکاریده چې دسړې جګړې په بری کې شوروي بری او دا عملی پیژندنه به دشرقي اروپا بې خطره کولو موضوع په برکې نیسي ناټو به منحل کیږي جاپان به پاتی کیږی او په ارام سمندرګی کې به د امریکا سیاسي او نظامي حضور پای ته رسیږی .**

**برسیره پردی په (۱۹۶۲) م کال کې شوروي اتحاد دکمونیست ګوند په بیانیه کې بری داسې تعریف شوی وه تر (۱۹۸۰) پورې په کمونیزم د کپټالیزم بری ناممکنه دی پدی ضمن کې ازادی بخښونکې مبارزات امپرالیستی ارزوګانی منزوی کوی او باالطبعه به دنړۍ بیلابیلی سیمی به د پاکسازی د عملیاتو صحنی وی .**

**دپورته دوه فکرونو او تعریفونو څیرنه د بری په هکله مهم دی نه یواځې دا چې شوروي بری تحقیق ونه موند بلکې په زیات احتمال دغرب دبریالیتوب سناریو په ګیچ کوونکې ډول بدلون وموند . مونږ ګورو چې المان بیرته سره یو شو ، ناټو په خپل ځای باقي ده دشوروي د ځواکونو شاته تګ تر (۱۹۹۴)م پورې بشپړ شو او د وارسا تړون منحل شو .**

د شوروي ځواکونه د چکسلواکیا او مجارستان څخه ووتل بیا  ورپسی په نهایي مرحله کې نه یواځی دا چې له منځه لاړل بلکې لهستان او چکوسلواکیا او مجارستان دناټو غړی هم شول. دټولو نه مهم داچې په خپله شوروي اتحاد سره وپاشل شو شوروي اتحاد فوځ دمنځه لاړو او خپله روحیه یې دلاسه ورکړه ، بالتیک هیوادونه ازاد شول او اوکراین خپل ځان د یو خپلواک هیواد په حیث تنظیم کوی او د مرکزی اسیا جمهوریتونه ټول یې خپلواکي ته ورسیدل ، لکه د سابیریا  ختیځی سیمی هم ډیرژرله خطرسره مخامخ شوی په حقیقت دهغه لوی زبر ځواک اقتصادي اوسیاسي سرنویشت چې لږه موده وړاندی یو خطر بلل کیده اوس کاملاً بل ډول شوی دی هغه  دولت اوس کاملاً دغرب څخه د کومکونو په ترلاسه کوونکې هیواد بدلیږی یو وخت د جوش او خروش ډکه تیوری یعنی د دوو نظامونو د ادغام خبری یې پشنهاد کولی خو اوس په عمل کې لیدل کیږی چې دا کار په یو طرفه ډول په مخ روان دی دغه پیله دتاریخي لحاظه د ناپیلون د شکست په اندازه په (۱۸۱۵) م کال د المان له امپراطورئ سره په (۱۹۱۸) م کال کې نازی المان او جاپان او په (۱۹۴۵) کې یو طرفه او کار جوړونکې وه له اصولی پلوه د سړې جګړې پیله (۱۸۱۵) م کال او (۱۹۴۵) م کال جګړو له پایلو سره مشابهت لری په دغه جنګونو کې دناکامو طرف د ایدیالوژئ دضعف ټکي ښکاره شو دجیوپولیټیکې له نظره هم سړه جګړه د (۱۹۱۸) م کال د وضعی یادونکې وه چې ماتی خوړونکې امپراطور اوس هم د پاشل کېدو پړاونه تیروی اوس مهمه او په معاصر تاریخ کې دبحث مسله د یو ډول صلحی او د هغې د پیلی منل دی داچې کوم  دصلحی ترتیبات په پخوانیو دورو کې باید نمونه وګرځول شی مخکې لدی چې پورته پوښتنی ته ځواب وویل شی باید یوشمیرنورو مهمو سوالونو ته فرعی ځوابونه وویل شی .

عملاً سړه جګړه څنګه روانه ده ؟

دسړې جګړې ځانګړتیاوی کومی دی؟

دسړې جګړې د طرفینوڅخه کوم یو یې د فاعی او کوم یې په تهاجمي موضع کې وه؟ ایا د جګړې پای ته رسولو کې کوم ډول سازش په اساس پای ورکولو امکان موجود دی او بلاخره شوروي اتحاد به پدې جګړه کې بریالی شی او که بریالی کېده څه وخت به بریالی شی ؟

دغه ټو سوالونه نه یواځی تاریخی پلوه وه بلکې ددی پلوه چې اوس هم دهغه روابطو له پلوه چې دجګړې څخه ورسته اوضاعو کې ښه داهمیت وړ وه او دا هم مهمه ده چې پخوانی اشتبهات وڅیړل شی او د دغې لوی جګړې  اصلی علت واضع شی ؟

# دوهم څپرکی

## د سړې جګړې پړاونه

**لومړی مبحث لومړی پړاو :-** د سړې جګړې په لومړی پړاو کې چې د ستالین تر مرګه وروسته تر (۱۹۵۳) م کال پورې یې دوام درلوده د طرفینو محرکه ویره او تجاوزګرانه انګیزې سره لدې چې هریو داسې فکر کاوه چې هغه بل طرف د تجاوز قصد لری لیکن طرفینو د پام وړ اندازی سره د شوروي په غیر فعاله کوونکو برنامو تاثیر اچولی وه دغه تشویش په غرب کې لوی لاسته راوړنه ده چې ستالین اصلی هڅی او نګرانی په هغه وخت د جګړې په جریان کې د اروپا ساتنه او هضمول وه .

په همدې ضمن کې یې غوښتل چې د امریکا د مخ پرودی هیوادونو د نښتی څخه مخنیوی وشی نو ځکه د خپل وخت د عاجلو انقلابونو لکه مارشال تیو او راډیکالانو برخلاف ډیر زیات احتیاط وکړ.

ستالین دا عقیده درلوده چې غرب ددی واک په مرکزی اروپا نشی زغملی هغه د غرب فشار پرته د ازادو انتخاباتو باندې د شوروي په داخلی سیاست د یولوی فشار په ډول ګاڼه هغه وخت چې غربی المان په ضد یوه توطیه وګڼله دسړې جګړې په شدت سره ستالین مخ په زیاتیدونکې ډول ویریدلی وه نو ځکه یې په ټولو کمونستی هیوادونو کې د هر ډول سیاسي مفکورو سرکوب کولوته ملا تړلی وه او هر ډول خپلواکې غوښتونکو سیاسي فکر به یې له منځه وړلو البته دا مسئله د ستالین د ټولو تدافعوی هڅو په بناء نده بلکې ویلی شو چې د ستالین ځواکونه د موضوع څخه واقع بینانه برداشت درلوده او پدی باندې ډیر ښه پوهیده چې باید ددی فرصت څخه څه ډول استفاده وکړی هغه هڅی کولی چې خپلی لاسته راوړنی مخکې د ویراندی تګ څخه لا پسی کلکې کړی او هیله یې لرله چې د اروپا د قارې څخه د امریکا په عقب نشینی سره بریالیتوب ددی شی .

غرب هم د جګړې په اوایلو کې تدافعوی موضع لرله اګر چې غرب د شوروي لخوا د مرکزی اروپا کنترول محکوم کړ لیکن د مقابلی سنګر یې ونه نیوه .

په هغه وخت کې چې د برلین محاصره په (۱۹۴۷) م کال کې د غرب خواته دشوروي د حرکت د پیل په عنوان سره فکر کېده چې پدی هدف غرب نه یوازې د برلین څخه بلکې دټول المان څخه خارج کړی سره ددی چې پیل کې دا ګمان پیدا شوی وه چې جګړه کم ترکمه یو انحرافی ، تهاجمي تکټک دی چې اروپا کې د قدرت ښودلو لپاره صورت نیسی لیکن دا اقدام په واقعت کې د جاپان د ویرولو او د المان اصلی ځمکې څخه د امریکا د شړلو سیاست د بشپړلو یوه برخه ده . دغرب په تیره بیا د امریکا په

**عکس العمل او د شوروي پرضد مخه نيونکې جګړې څخه محتاطانه والی دامریکا په واسطه د هستوی وسلو د انحصار سره سره دپاملرنی وړ ونه ګرځیده دکمونست بلاک سره په هر اړخیزه اوپراخه پیمانه مقابله او تحریکات دامریکا د ستراتیژیکې برې او لوړوالی سره سره عملاً یوه تدافعوی دکتورین وه .**

**د برلین محاصره نه یواځې په غیر مستقیم ډول د اعتراض لاندې ونه نیول شوه او همدارنګه د کوریا په جنګ کې د پراخه مداخلاتو باوجود ددې حملې لاندې رانغله ددې پرځای غرب خپل پخوانی دښمنان یعنی ( جاپان او المان ) له زیات نه زیات تنظیم کړل او دهغوی په سیاسي تنظیم کې لاس پوری کړ کوم چې دوی قرار په قرار ځانونه جوړ کړاو له بلې خوا امریکا داسې په شرقی او غربی سیمو کې دنظامي حضور لپاره ځینې ژمنی ومنلی، دکوریا جګړې دا وښوده چې امریکا حضور په جاپان او کوریا کې د ارامی په راوستلو کې مهم دې دا چې په (۱۹۴۹) م کال کې دناټو تاسیس دهغه وخت د ضعیفی اروپا او امریکاترمنځ یو ډول امنیتی اړیکو معکوس والی پدی ډول سیاسي پولې رامنځته شوی او سیاسي مرز بندی یې ښکاره شوی چې دی مرز بندی (۴۰) کاله دوام وکړ.**

## دوهم مبحث دوهم پړاو :-

دستالین مړینه د سړې جګړې د لومړي پړاو پای وه وروسته د ډیر لږ څنډ نه دا چې د طرفینو د سړې جګړې د ادامې لپاره چمتووالی ښوده بلکې داسې ښکاریده چې غرب دیو حملې لپاره زمینه برابروی د کوریا په جنګ کې د امریکا زغم نور د منلو وړ نه وه .

جمهوریت غوښتونکو نوی کابینې په تدریجی ډول دا وښوده چې دا ممکنه ده چې له اتومی وسلی څخه کار واخلی له ټولو مهمه داچې دنوی کابینی خارجه وزیر (جان فاستر داس) امریکا یې همدې ته متعهده کړی وه چې په هغو شرایطو کې چې ناټو تشکېل شوی وه او المان وسلوال کېدل دبحث لاندی وو متحده ایالات په قاطعانه ډول دیوی پرمختلونکې ستراتیژۍ مدعی وه ، دا وخت دغرب په واسطه دمرکزی اروپا ازادول او مرکزی اروپا لپاره دخپلواکې سیاست دبریالیتوب ادعا مرکزی جبهه کې دیوی جامع حملی څخه ملاتړ کاوه چې دښمن دهغې ډیری ضعیفی نقطی ته متوجه وه البته دغرب دحملې طرحه بیا هیڅ کله هم عملي نه شوه چې دهغې دلایلو ځیني اړخونه درلودل .

## دریم مبحث دریم پړاو:-

د سړې جګړې د دوهمې دورې هم ورسته د ډیرو لوړو ژورو او له هغې جملی د شوروي دځینو شکستونو څخه وروسته (۲۰) کاله دوام وموند یعنی د (۱۹۵۰) کال نه تر (۱۹۷۰) پوری ورسیده اګر چې ځینو محدودو مواردو کې دغرب لخوا ځینی جیوستراتیژیکې تکتیکې دریدنی او ځینی موقت اوربند وشول خو بیاهم دجیوستراتیژیکې پلوه دسړې جګړې بار ځانګړنه پدی موقع کې دشوروي تهاجمي موضوع وه همدارنګه شوروي په منځني ختیځ کې ځینی ډیری زیاتی ویناوی درلودی او کېوبا کې د نظامي پایګاه له مخی یې بری په برخه شوه د جیوپولیتیک له پلوه دا په بالقوه ډول ډیر مهم وه دغه دوره د دوه نښتو شاهده وه چې دواړه ډیری خطرناکې خو ژر تیریدونکې وی یوه د برلین په سر او بله یې د کیوبا په سر وه زیات شمیرو ویل چې دا نښتي د امریکا په ګټه وی او دغې کامیاب تکتیکي اړخ درلود حال داچې د شوروي بری اکثره ستراتیژیک وه د شوروي لخوا د برلین د یوال درول چې له کلک مخنیوی سره مخامخ نه شول دهغه هیواد کنترول یې په شرقی المان را کلک کړو او په مرکزی اروپا اوالمان باندې یې دغرب د سلطې د کلکوالی هڅې د منځه یوړلی ، په عینې حال کې د کېنډی حکومت په کېوبا کې د شوروي د اراکېټونو راټولول په کېوبا کې د شوروي د طرفدارانو د ژوند د ادامی په بیه ومنلی ،په واقعت کې د تګلاری برخلاف یو وخت د مانورو لخوا ښکیل شوی وه ، امریکا اړه شوه چې

**د شوروي یوی مهمی پایگاه ته د مصونیت په حق قایل شی په کال(۱۹۶۴) م کې د خروشچوف د سقوط سره سره د شوروي تهاجمی ستراتیژی ډیره د برژنیف د کم پایه مګر دولت سالاره رژیم په واسطه همداسې وساتل شوه ، د شوروي د پراختیا ستراتیژیکې نظریه د دوه لسیزو لپاره نورهم همداسې باقی وه خو دغې خبری د شوروي پراقتصاد دومره درووند بار راوړو چې بلاخره مسکو په متحده ایالاتو دغلبې په غیر واقع بینانه هدف باندې شکمنه شوه ،او له هغې لاس واخست سره له دی چې امریکا څوڅو ځله سازشونه وکړل او د جانسن او د نیکسن دواړه حکومتونه د ویتنام د جنګ له امله د کلک فشارسره مخامخ شول او په کلکه د سرې جګړې د راکمولو طرفتدارنو د شوروي هڅې د اسېا او اروپا په برخه کې او د غرب د سلطی او په نړی کې د دریمی نړی د هیوادونو په برخه کې د خپل نقش د زیاتوالی لپاره روانی وی چې پدی وخت کې د شوروي او امریکا سازش دوو برخو کې وه .**

1. **د وسلو دکنترول مربوط خبرو اترو کې محدود پرمختګ .**
2. **په اروپا کې دکشمکش نسب کمښت .**

## څلورم مبحث  څلورم پړاو :-

د کار پایله دا شوه چې دا مرحله د سړې جګړې اخیری مرحله وبلل شوه چې له (۱۹۷۹) نه تر (۱۹۹۱) کال پورې وه دغه مرحله کې غرب رو رو دعمل نوښت په لاس کې واخست او اوردو دفلسفی او سیاسي بحران سره مخامخ شوه او په وسله والو مسابقو کې امریکا ډیر زیات برې ترلاسه کړ او دامرحله دشاخص له کبله داسې دوره وه چې لس کلونه یې په برکې ونیول او پایله یې د غرب برې وه ، د شوروي سخت او تاریخی شاته تګ د شوروي د ډیر زیات پرخوالی دریو مواردو لا چټک کړ ، له جیوپولیتیک له پلوه په افغانستان  د شوروي یرغل چې د (۱۹۷۹) م کال د ډیسمبر په میاشت کې وشوه ظاهراً داسې وانګیرل شو چې امریکا به هیڅ غبرګون نه ښکاره کوی خو په حقیقت کې امریکا سخت غبرګون وښود او سړې جګړې په ټول دوران کې د امریکا د لومړی ځل لپاره داسې سیاست غوره کړ چې په هغه کې شوروي د ځواکونو د لمځه وړل هدف وه .

د کارتر حکومت نه یواځی دا چې د مجاهدینو حمایت یې وکړ بلکې دافغانستان د مقاومت مهم ټکې دا چې امریکا دپاکستان امنیت د شوروي د هر ډول یرغل په وړاندی تضمین کړ او پدی ډول یې افغانانو مبارزینوته ډاډمنه پناه ګاه جوړه کړه د امریکا کومکونه په کراره کراره دوخت په تیریدوسره د (۸۰) یمي لسیزی په دورا ن کې او دریګن د حکومت په وخت کې ډیر زیات اضافه والی وموند او له کمیت او کېفیت له پلوه پراخ شول ، امریکا د افغانستان په جنګ کې چې یو ډیر لوی کارسازی نقش ولوبو پدی بریالی شوه چې شوروي داسې یو ډنډ کې ګیر کړی لکه چې امریکا دویتنام په جنګ کې ګیر وه ددی برسیره امریکا د صلحی غوښتونکو هغه فکری مکتب اغیزی لاندی چې د روسانو دقابلیت له کبله چېن سره ضعیف شوی وه خپل روابط یې د چېن سره د کېفیت له پلوه پراخه کړی د (۱۹۸۰) کال راهیسی له چېن سره د امریکا همکاری نه یواځی د افغانستان د مسئلی په اړه بلکې نورو برخو کې ډیر حساسیت سره تعقیب شوه پدی ډول شوروي له یو لوی خطرسره مخامخ شو هغه له متقابلی کلابندۍ سره مخامخ شو ددی برسیره د کارتر حکومت دچټک غبرګون ځواکونو په جوړولو لاس پورې کړ،اوله ټولو هم دا چې امریکا او دهغه  متحدینو ناټو کې پریکړه وکړه چې دوویشت توغندی په وړاندی چې شوروي په اروپا کې ځای پرځای کړی داوروستۍ پریکړه ددی سبب شوه چې شوروي داسې لارې مخ کې ونیسی چې اروپا وویروی او کواښ ورته وکړی .

دبیلگی په ډول د شوروي دهغه وخت د بهرنیو چارو وزیر گرومیکو وویل (که چېری داتلانتیک زنځیر په پوره ډول سست شی نو پیمان به د خراب برخه لیک سره اخته شی ) په هر حال دامریکا او اروپا شریکانو دواشنګټن غبر ته قاطعانه ډول دهر سوال ځواب ورکړ او دامریکایي ځواکونو دلاپیاوړتیا لپاره یې د ریګن جمهوریت په وخت کې ډیر کلک دریځ غوره کړاو امریکا دځواکونو پراختیا او قوت د (۸۰) لسیزی په پیل کې دستورو دجګړې په دوام شورویان غافل کړل بیا یې دهغوی منابع د فشار لاندی کړی د دغې برنامی د روندوالی او جسارت غیر منتظر وه له (۱۹۸۳) م کال څخه وروسته په مسکو کې یو واقعی جنګ دپیل کېدو ویره پیدا شوه دا ځکه چې په مسکو کې فکر کېده چې ممکن امریکا د جنګ او نظامي حل لپاره وسلو ته لاس واړوی اوبیا وړپسی د (۸۰) لسیزی په منځ کې شوروي رهبرانوته څرګنده شوه چې نشو کولی دامریکاسره مقابله وکړو او نه هم کولی شوه چې د هغه هیواد د هڅوسره ځان برابرکړو او د (۷۰) لسیزی په منځ کې کارتر د بشر د حقوقو د ملاتړ سیاست رامنځته کړ په پای کې د شوروي کنټرول لاندی لومړی شرقی اروپا او بیا په خپله شوروي کې لومړی څو په ګوتو په شمار او بیا لوی ډلی اشخاص زړور شو چې د بشر حقوقو معیارونه ټینګ کړی او د غرب په معنوی او سیاسي ملاتړ ډاډمن ووسي دبشر د حقوقو په لاره کې د غې مبارزی پراخوالی وموند او په تیره بیا په لهستان کې د لومړنی پاپ په غوره کېدو سره لا ګړندی شوی د (۷۰) لسیزی په پای کې د همبستګی غورځنګ دشوروي په اروپایي قمر کې د مهموهیوادو کمونست رژیمونه د ګواښ لاندی راوسته او د کارتر او ریګن حکومتونو شوروي ته وښوده چې لهستان کې د شوروي مداخله دوی ته ګرانه لوېږی ، دغو پیغامونو د افغانستان د مقاومت څخه د ملاتړ په واسطه لازیات قوت وموند په همدې شرایطو کې د کریملین رهبرانو ښه ومنله چې په یوه نیمه موافقه کار بسنه وکړی یعنی په لهستان کې یوه نیمه نظامي حکومت برقرار کړی چې په کمونسیت رژیم متکې وی چې په پای کې په دی ډول دلهستان بهران د یو ټپ په توګه په ټوله (۸۰) لسیزی کې پاتی شو او نه یواځی داچې دلهستان رژیم یې ډیر زیات ضعیفه کړ بلکې د هغې اغیزې نورو دشرقی اروپا هیوادونو کې هم راښکاره شوې ، پدی ډول د بشر حقوقو حمایه او دنظامي ځواک پراخوالی د شوروي په وړاندی د امریکا دسیاست یوه پریکنده وسله شوه چې نه یواځی دهغې برید شوروي تهاجم بس کړ بلکې په کلی ډول د دغې هیواد سیاسي ، اقتصادي، او ټولنیزو بحرانونو شدت پیدا کړ او قدرت مشترکه په شوروي کې شاته تګ رامنځته کړ د (۸۰) لسیزی په منځ کې دشوروي نوی ځوان رهبرانو واک په لاس کې واخست مسکو دا واقعات ومنه چه د شوروي داخلی او خارجی سیاست د ناکامی سره مخامخ دی نو هوډمن شو چې کمونست نظام جوړونکو اصلاحاتو لارې ترسیم کړی او هم اقماري رژیمونه له هغو

موازینو له مخې چې له داخلي پلوه دمنلو وړ وی جوړ کړی خو دغو اهدافو ته درسیدلو لپاره ځه وخت او فرصت ته ضرورت وه نو ځکه د شوروي نوو رهبرانو په (۱۹۸۵) م کال د ډیسمبر په غونډه کې دامریکا د زیتونو خاښ د ریګن د لورى ومانه او په دی هیله یې ځان د وسله والو سیالیو څخه وژغوره څو کاله مخکې خاطرات لا اوس هم په ذهنونو کې ژوندی دی چې داخلی اصلاحات په بی نظمی پرمخ تلل نه یواځی دا چې نوی روح یې وموند بلکې دهغې دننی ضعف او تضادونه یې راښکاره کړ وسلوالو مسابقو سره دشوروي اقتصاد یې بلکل فلج کړي وه او د هغه ایدیالوژیکې ارمان یې خاورو سره برابر کړی وه ، په لهستان کې زیرزمیني جنبش په وړاندې په مقابله کې ناتواني رو رو کمونست رژیم مصالحی ته اړ کړ .

# دریم څپرکی

## دسړې جګړې علتونه ، اغیزې او ځانګړتیاوې

### اول مبحث : دسړې جګړې علتونه:

#### 1. د نظریاتو اختلاف :-

دستالین د قیادت لاندی شوروي غوښتل چې نړۍ داسې تقسیم کړی چې د امریکا د نظریاتو کاملاً برعکس وی ، دی ډول فکرونو نړۍ په دوه بلاکونو وویشله او د برابروالی او قدرت نظر ختم شو ، پداسې حال کې چې د شوروي او امریکې ترمنځ د نظرونو اختلاف د دوهمې نړیوالې جګړې ورسته دوه یو د بل ضد نظری رامنځته شوی په کومی چې دواړو ترمنځ ډیر زیات اختلاف موجود وه چې یو د کمونیزم او بل دکپیټالیزم دنظریې طرفدار وه ، چې پدې ډول امریکا دشرقی اروپا او شوروي د غربی اروپا سره مرستی شروع کړی، ددی نه وروسته اسیا، افریقا ، او لاتینی امریکا کې د خپلو دوستانودپیداکولو لپاره لاس وهنه شروع کړه

#### 2. د ستالین تور :-

د دوهمې نړیوالې جګړې په دوران کې ستالین په متحدینو باندې تور ولګوه چې د هټلر متحدینو دخپلو فوځونو په لیږلو کې سستی کړی او ستالین داسې فکر کاوه چې امریکا غواړی چې هټلر دی په مکمله توګه په شوروي باندې حمله وکړی .

#### 3. د ملګرو ملتونو دجوړیدو په اړه انتقادونه :-

کله چې د ملګرو ملتونوسازمان جوړ شو ، نو د شورویانو غوښتنه دا وه چې دنوموړي سازمان په جوړښت اوموخو کې باید ځینی بدلونونه رامنځته شی چې دا کار ونه شو .

**4. د شوروپانو داغوښتنه چې د دوی ځواکونه دې په جاپان کې پاتې شی:-**

**د دوهمې نړیوالې جګړې په پای کې جاپان دمتحدینو په وړاندې بې له کوم شرط څخه تسلیم شو او دمتحدینو ډلی یو تعداد عسکر په جاپان کې د څارنی په نیت هلته پاتی شول ، روسانو هم دا توقع درلوده چې ددوی یوڅه قوتونه هلته ومنل شی خو داتحادیانو دمخالفت له امله روسان ناراضه شول .**

**5. د شوروي مشرانو دا دریځ چې شوروي ګټی دې په نظر کې ونیول شي :-**

**د هټلري المان د ماتی وروسته د جرمنی او پولینډ سرحدی پولې وټاکل شوی اتحادي قوت د پوتسیدام په کنفرانس کې د شوروي ګټې په نظر کې ونه نیولې چې دې فیصلی امریکا او شوروي ترمنځ د ساړه جنګ زمینه برابره کړه .**

**6. د جرمني ویشنه اود شوروي وضع:-**

**د دوهمې نړیوالی جګړې وروسته المان په څلورو حوزو وویشل شوه ، امریکا او متحدینو یې د څلورواړو برخو لپاره یوې واحدې سیاسي اداری غوښتنه درلوده ، شوروي سره ددی چې په لومړیو وختو کې داتحاد یو غړی هیواد وه هغه نه غوښتل چې دشوروي برخه د نورو دری برخو په شان د یوې واحدې مرکزې ادارې لاندې وې ځکه شوروي غوښتل چې خپله برخه دمارکېزم د اصولو مطابق عیاره کړی ، چې دغې اختلاف د سړې جګړې دناندرو بازار نور هم ګرم کړ .**

**7. د ټرومین نظریه :-**

**په (۱۹۴۷) م کال په مارچ کې ټرومین نظریه ورکړې وه چې (داروپا دوه غیری کمونستی هیوادونه یونان او ترکې سره امریکا په زیاته پیمانه اقتصادي او فوځی مرستی وکړی او دوی دواړو هیوادونو ساتنه امریکا ډیره مهمه وګڼله دا دواړه هیوادونه د کمونیستی رژیم دخطر سره مخامخ شول ، ترکي ته شوروي اخطارونه ورکړچې دروم په بحیره باید شورویان واکمن شی ځکه شوروي په دی سیمه کې خپل ځان قوی کول غوښتل ، په کال(۱۹۵۰) م کې دامریکا مرستو څرګنده کړه چې د دواړو ملکونو حالت بدل شوی او پدی سره هلته سوله هم راغله.**

## 8. د انزوا او یوازی والی د پالیسی ردول :-

امریکا تقریبًا (۵۰) کاله مخکې د انزوا پالیسی غوره کړه او پدی دوره کې امریکا خپل ځان مضبوط کړو ، په دواړو نړیوالو جګړو کې امریکا هم رول ولوبوه ددویمی نړیوالی جګړې څخه ورسته امریکا د انزوا دپالیسی څخه راووتله او د اروپا په معاملاتو کې یې لاس وهنه شوروع کړه پدی وخت کې اروپا داقتصادي مشکلاتو ښکار وه نو امریکا ددوی سره مرستی شروع کړی ، بل طرف ته روسیه په نړۍ کې د کمونیزم د پراختیا لپاره لګیا وه امریکا هم له همدې امله میدان ته راغله او د انزوا پالیسی یې ختمه کړه .

## 9. مارشال پلان :-

د امریکا لخوا د کمونستانو دمحاصری پالیسی لاندی د ټرومن دری میاشتی وروسته مارشال پلان اعلان کړو ، ددی پلان مقصد د روسانو خلاف د مخ په ودې هیوادونو سره مرسته کول وه ، په دری کلونو کې امریکا غربي هیوادونو ته لس میلونه (۱۰) ډالره دمرستی په توګه ورکړه چې په پایله کې داشتراکي نظام مخه ونیول شوه .

## 10. د ناټو جوړیدنه :-

د (۱۹۴۹) م کال د اپریل په میاشت کې د اجتماعي ساتنې په خاطر دفاعي تړون لاسلیک شو په تړون کې (۱۵) هیوادونو ګډون وکړو په تړون کې په اقتصادي ، پرمختیایی تجارتی پرمختیا او سیاسي اړیکو پر زیاتوالی ، دفاعی پرمختیا او دغربی مدنیت ته په پراختیا موافقه وشوه ،دا لومړی ځل وه چې غربی هیوادونه په یو دفاعی تړون کې سره را یوځای شول ، پدی تړون کې امریکا ،کاناډا غیر اروپایي هیوادونه هم شامل وه غربی هیوادونه دامریکا داتومي بم دلرلو په خاطر دامریکا ترتاثیر لاندی د ناټو په تنظیم کې سره را یوځای شو او د ناټو د لاری د مشترکې دفاع لپاره لاری چاری ولټول شوی د ناټو مرکزی دفتر په پاریس په ښارکې جوړ کړی شو او دغې تنظیم د روسې کمونیزم پراختیا کې ښه رول ونه لوبوه .

**11. د انزوس تړون :-**

د (۱۹۵۱) کال په سپټمبر کې د امریکا ، استرالیا ، او نیوزلیند ترمنځ د انزوس یوتړون لاسلیک شو چې دغې هیوادونو فیصله وکړه چې د کمونستي هیوادو د حملې په صورت کې به انفرادي او اجتماعي ډول منظم شی دا تنظیم دنیټوپه ډول مخې ته راغې خو دا تړون ډیر کامیابه نه وه .

**12. د سنټو تړون رامنځته کېدل:-**

په (۱۹۵۳) م کال راهیسې امریکا په منځني ختیځ کې د روسانو د اثر ختمولو په خاطر ځانته دملګرو د پیداکولو کوشش کوو ، بلاخره په کال (۱۹۵۵) د فبروری په ۲۴ نیټه د امریکا دا هڅې د عراق او ترکې ترمنځه د بغداد د تړون په لاسلیک منتج شوی پدې تړون کې په لومړیو کې امریکا ،برتانیا، پاکستان ،ایران ،عراق، او ترکې برخه واخسته ، دسنټو تړون (۱۹۵۸) م کال پوری دبغداد د تړون په نامه پیژندل کېده او په همدغه کال تری عراق هم ووتو همدارنګه کله چې مرکز یې انقری ته انتقال شو نو پاکستان اوایران په (۱۹۷۹) م کال کې ترې هم ووتل .

**13. د وارسا تړون :-**

په (۱۹۵۵) م کال کې روس د ځینو اروپایی هیوادونو سره یو ځای د وارسا په ځایي کې په یوه معاهده امضاء وکړه کومې ته چې د وارسا تړون نوم ورکړل شو پدی معاهده کې ۲۰ کاله پوری پوځی دفاع شامله وه البته دناټو په مقابله کې معاهده وه ددی معاهدې په زریعه ورسته په خپل سټلایټ کې د خپل فوځ د منظم کولو اجازه وشوه دوارسا تړون په ذریعه د روس او امریکا اړیکې خرابې شوې،اوسړې جګړې پراختیا و موندله.

**14. ایرن هاور پالیسی :-**

د کمونیزم په ټوله دنیا کې دپلفاردو درولو لپاره امریکا ددی مما لکو د مکمل ملاتړ اعلان وکړ کوم چې د کمونیزم په خلاف د نفرت جذبه درلوده د ایرن هاور دصدارت په دوره کې امریکا د اروپا نه وروسته اسیایي افریقایي او لاتینی امریکې هیوادونو سره هم مرسته وکړه ایرن هاور په اروپایي نړۍ کې د کمونزم دشهرت دختمولو لپاره پروګرام ترتیب کړ پدی دوره کې دروس او امریکا کړکېچ زیاتوالی وموند .

**15. د ستر طاقت دمیزایلو منډه : -**

روس په میزایلو پریښودو کې لومړیوالی وکړ چې ددې په وجه په دنیا کې ویره پیدا شوه روس فضایي سیاره هم جګه کړه او دروس په مقابله کې امریکا په (۱۹۵۵) م کال کې دسپوتینک نومې یوه تربیتې الو تکه پرښوده بیا امریکا سپوږمۍ ته خلا بازان ولیږل په دې ګډوډۍ یامقابله کې د طاقت برابروالی جوړیده او خرابیده ددی سره سره په غټو طاقتونو کې دمزایلو د جوړولو منډه شروع شوه پدې طریقه د سړې جګړې حالت نور هم زیات خراب شو امریکا د انسان برداره طیاری فعالولو په ذریعه سړي فضا ته ولیږه او په ټوله دنیا کې یې نوم وګاټه.

**16. جرمني اوسړه جګړه :-**

په (۱۹۵۰) کال کې جرمني هم د سړې جګړې ښکار شو په جرمني کې د غرب زیات شوی جریان روس ته خوښ نه وه په (۱۹۵۹) م کال کې شرقي او غربي جرمني لپاره دامن معاهدې غوښتنه وکړه په دی طریقه معاهدو په جرمني کې فوځ طاقت کم کړ دجرمني ،امریکا او روس غوښتني دپوره کولو په حالت کې نه وي امریکا په برلین کې خپل فوځ وساته روس مشرقي جرمني ته دامن معاهدې اخطار ورکړ پدې طریقي دجرمني له وجهې نه د امریکا او روس اړیکي متاثره شوی .

**17. د هوایي الوتکې مسله :-**

( u -2 )د امریکا جاسوسی الوتکه وه چې د هغې په وسیله روس د فوځ اهمیت او د هغې د فوځ د ځایونو په باره کې معلومات ورکول دی الوتکې په خاصه توکه دناروی او پاکستان نه پروازونه کول په (۱۹۶۰) کال دپیښورنه پروازکولو دغه الوتکه پاکستان وویشتله او راکوزار یې کړه او د الوتکې پیلوټ یې څه قاغذونو سره ونیوو پدې وخت کې روس پاکستان ډیر واغنده او امریکا په پاکستان ډیره غوصه ښکاره کړه په (۱۹۶۰)م کال کې د امریکا جمهور رئیس د جاسوسي الوتکې پرواز بند کړ نو دهغه وخت نه د امریکا او روس اړیکي نورې هم خرابی شوی.

**18. د برلین دیوال :-**

برلین د دوهم نړیوال جنګ نه ورسته د روس او امریکا په منځ کې د سیاسي ګډوډۍ د توجه مرکز وګرځیده ، برلین یې په ۴ برخو تقسیم کړو اودهغې دساتلو ژمنه یې امریکا ،انګلستان ، فرانسې ،

**او روس ته ورکړه په (۱۹۵۸) کې د جرمني د يوځای کولو ناکام کوشش وشوه په (۱۹۵۸) م کال کې خروشچوف اخطار ورکړ چې جرمني يوځای کړي او يا د غربي هيوادونو فوځيان دبرلين نه اوباسی غربي هيوادونو ددي خبرې ته اهميت ورنکړه په دې وخت کې دبرلين نه ډيرشمير جرمنيان د غربي جرمني نه راوتل شروع کړل چې ددې وجهې نه شرقي جرمني حکومت په ويره کې شوه په (۱۹۵۵) م کال کې په ناټو کې د شريک کېدو په غرض غربي جرمني خپل ځان بيا داسلحې څخه پوره کول شروع کړ، د روس په همکاری سره د برلين د يوال جوړ شو چې د هغې په وجه د غربي او شرقي جرمني د تلو او راتلو لاره ګرانه شوه او د برلين په دوه حصو تقسيم شو او څلورو غټو طاقتونو کې يوهم د برلين د يوال مخالفت ونه کړو .**

## 19. د روس د پراختيا پاليسي :-

**د دوهم نړيوال جنګ نه وروسته روس خپلې پراختيا پاليسي اختيار کړه چې ددي مقصد داوه چې شوروي سرحدات اوږده کړی او تودو اوبوته ځان ورسوی ، امريکا د روس د پراختيا ودرول غوښتل ددی وجهی نه امريکا دا کار د سړې جګړې سبب وګرځيده.**

## 20. په کېوبا کې د روسي مزايلو نصب کول :-

**په کېوبا کې ګډوډي د روسي مزايلو د کېښودلو له امله پيدا شوه، کېوبا د لاتينی امريکا لپاره مهم هيواد وه،د امريکا دلته فايده وه ،هلته د کمونيست حکومت وجود د امريکا لپاره ډير غټ خطر وه ،په کال ۱۹۶۳م کې امريکا ته معلومات ولګيدو چه روس په پټه په کېوبا کې د اسلحې اډې جوړې کړې ،او ايالات يې د روس په لاس کې دی ،نو امريکا د روس سره نا موافقه شوه ،او دا جګړه يې د امنيت شوری ته يوړه ،د روس استازې د امنيت په شوری کې دا خبره ښکاره کړه چې دا اسلحه مضره نده ، مګر امريکا ته دا خوښه نه وه اوهغې وويل چې دا مزايل دی ليری کړای شي نو د روس جمهور رئيس دا شرط وتاړه که امريکا د ترکې څخه خپل مزائيل ليری کړی نو روس به هم دا کار وکړی،ليکن امريکا دا شرط نه منلو او په وجه يې سړې جګړې زياتوالی وموند ،خو بلاخره روس دکېوبا څخه مزائيل ليری کړل نو پدې طريقه خروشچف هم ليرې شو د کيوبا ددې کار نه ورسته سړه جګړه کې کموالی راغې.**

## دریم مبحث:   د سړې جګړې ځانګړتیاې

1. سړه جګړه د امریکا او پخواني شوروي ترمنځ دسیاسي او لفظي ناندرو جګړه وه چې د ترومن دوکتورین ،ناټو، وارسا، پکټونو جوړیدل،د الزاس لورین معاهده،د سیټو او سنټو د پیمانونو رامنځ ته کېدو ورته پوره لمن ووهله چې دې دشمنیو تر نن پورې د زیاتو هیوادونو ګریوانونه څیرې کړې

2. په دې جګړه کې ګرمه سلاح لکه طیاره ، توپ، ټانک څخه کار نه اخستل کېده بلکې یو د بل په وړاندې دنادرو پروپاګندیو دسیسواو جاسوسۍ پواسته مخ پر وړاندې تلله.

3. ددې لپاره چې په نړیواله کچه صلحه او امنیت موجوده وي نو کله کله د داړو دښمنو اړخونو ترمنځ ځینی تړونونه لاس لیک کېدل .

4. دواړو دښمنو ډلو دخپلو پلوي هیوادونو سره هر اړخیزه مرستې کولی تر څو ددې لارې حپله ډله لویه اوقوی کړي.

د سړې جګړې په بهیر کې داوړو اړخونه په دې هڅه کې وه چې د خپل زیات نظامي  قدرت په لرلو سره مقابل طرف په دې مجبور کړې چې په وړاندې یې د مقاومت  یا تجاوز جرآت ونه کړي.

## دوهم مبحث : د سړې جګړې اغیزې :

### 1. د غټوطاقتونو په منځ کې تاو تریخوالی :-

د سړې جګړې له امله په غټو طاقتونو کې اختلافات پیداشول ، دوهم نړیوال جنګ په (۱۹۴۵) م کال کې ختم شو مګر دهغې نه وروسته هم په نړۍ کې امن پاتی نه شو او د سړې جګړې له کبله غټو طاقتونو جنګ نه پیداشوی مسئلی حل نه کړي او داسې حالت یې پیداکړ چې دهغې په وجه یو بل ختم کړی او دهغې نتیجه دا راووته چې په دنیا کې داسې مسئلی اوس هم شته چې کوم حل نلری.

### 2. نړۍ په مختلفو بلاکونو تقسیمول :-

دنړۍ هیوادونه په مختلفو بلاکونوتقسیم شول لکه شرقي بلاک او غربي بلاک .

### 3. د وسلو منډه :-

د سړې جګړې یو غټ اثر د وسلو جوړولو منډه ده د وسلو په منډه کې ټوله دنیا ډیره مخکې شوې ده ټولو قومونو دخپل قوم دخدمت نه پرته د وسلو په راټولو روپۍ خرچ کړې حالتو داسبق ورکړ چې د اوردو او فوځ نه چې کوم خلک ضعیف وی په هغې دغټو طاقتونو لرونکو هیوادونه هر کله حمله کولی شي ،نو پدی وجه اسلامي هیوادونو هم ځانته وسله واخیسته پدې طریقه ټوله نړۍ دوسلې په منډه کې شامله شوه .

### 4. د توازن اقتدار:-

د سړې جګړې یوه بله نتیجه زمونږ مخې ته راغله هغه دا چې کله دنیا په دوه طاقتونو تقسیم شوه نو وړوکو طاقتونو ته هم اهمیت حاصل شو هر غټ طاقت د وړکي طاقت مرسته پدې وجه کوله چې دهغه بل سره یو ځای نه شي د سړې جګړې له کبله دطاقت اندازه خرابه نه شوه او واړه طاقتونه په حفاظت کې پاتی شول نور اثرات هم شته خو دا ترټولو اهم اثرات دی .

# ځلورم ځپرکۍ

## پرافـغـانـسـتـان باندې دسړې جګړې منفی اثرات

د دويمې نړيوالی جګړې په بهير کې بريتانيه اوشوروي د هټلري المان په وړاندې نژدې ملګري وه ،په نړۍ کې د هغه وخت دا دوه زبر ځواکونه دګټو د ويش په سر يو دبل دشمنان شول ،ددې حالت په رامنځ ته کېدو سره افغانستان په دې اندېښنه کې شو چې که د جګړې ددواړو اړخونو(متفقينواو متحدينو) ديوه پلوی وکړي ، نو احتمال شته چې د خپل حساس جغرافيوي موقيعت په لړلو سره په راتلونکي کي د ستونزو سره مخامخ شي نو همدا وه چې افغانستان د دسمبر په ۴ کال ۱۹۳۹ م کي د يو پاچاهي فرمان په ترځ کي نړيوالو ته خپل بې پريوالي اعلان کړو او د جګړي د دواړو اړخونو په وړاندي يي د يو ډول راشي درشي لاره غوره کړه.

د نړيوالي جګړي څخه راپيداشوو کړکېچونو د افغانستان دولت دي ته اړ کړ چي د حالاتو د څيړلو او نړيوال بهرني سياست د غوره کولو له امله د ولس رايه ترلاسه کړي همداوه چي دولت د اکتوبر په پنځمه کال ۱۹۴۱ م کي لويه جرګه راوغوښته ، جرګي پريکړه وکړه چي دولت بايد د ناپيلتوب سياست وساتي او د تل لپاره د کوم هيواد يا ډلي په پلوۍ په جګړه کي برخه وانخلي ، کوم وخت چي دويمه نړيواله جګړه پاي ته ورسيده ، شوروي او برتانيي د جګړي د ګټونکي په قطار کي د لويو زبرځواکونو په حيث ډګر ته راووتل ، د وخت شوروي چي ورځ په ورځ د پرمختګ په حال کي وه،

اولويه بريتانوي امپراطورۍ د زوال په حال کې وه ،افغانستان ددې دواړو قوتونو دسياستونو محور ګرځيدلی وه ،نو ځکه ددی سره موازی دافغانستان سياسي وضع يو نوی اواحساس پړاو ته داخليږی،چې همدې وخت ته دساړه جنګ نوم ايښودل کيږی .

افغانستان چې په شمال کې يې کمونست ګاونډ قرار درلود ،د ايديالوژيکې اوعقيدوی اصولوله نظره يو دبل سره نه پخلا کېدونکې تولنې دی،د افغانستان چارواکې په همدې ويره د نړۍيوبل زبر ځواک هيواد (امريکا) ته د مرستې لاس اوږد کړو،په کال۱۹۴۷ م کې دافغانستان صدراعظم د امريکا څخه دځينو پروژو د جوړولو او نقدې مرستو غوښتنه وه ،همدا وه چې افغانستان د اقتصاد وزير امريکې ته يو سفر ترڅ کې د سپينې مانۍ غوړنو ته دا ورسوله چې دانګليس استعمار لمنه په هند کې په تولېدو ده ، نو کېدا ی شي شوروي په منطقه کې ديواځينی قوت په حيث پاتې شي ، چه په دي صورت کې ددی

امکان شته چي یوه ورځ پر افغانستان حمله وکړی،نوددی لپاره چه افغانستان په را تلونکي کې د داسي پیښنو مخه نیولي وشي ،یوې قوي اردو ته ضرورت لیدل کیږي ،ددي هدف ته د رسیدو لپاره په خاطر باید امریکا د افغانستان سره مرسته وکړی،ددی تر څنګ دافغانستان دولت د امریکا څخه دهغو وسلو غوښتنه وکړه کومي چې د هند په ګودامونو کې دنړیوالي جګړې په ورستیو ورځ کې هلته پاتې وې ،امریکا دافغانستان ددې دوه غوښتنو څخه یوه هم ونه منله ،ځکه چې ددویمې نړیوالې جګړې په بهیرکي افغانستان دمریکا پلوی ونه کړه ،او د یو ناپیيلي هیواد پحیث پاتې شو ،ددې مشکلاتو ترڅنګ افغانستان په یوه بل بحران کې هم راګیر وه،هغه دا چې د هند لویه وچه په دوه هیوادنو وویشل شوه او پاکستان د نړی د نقشي پر مخ یونوی تولد شوی دولت په شکل رامنځ ته شو،ددي ویش په نتیجه کې د افغانستان خاورې یوه برخه د پاکستان دولت ته ورکړل شوه ،نوموړې خاوره د انګریزانو د زور پواسطه چې په کال ۱۸۷۹م کې دګندمک او په کال ۱۸۹۳ م کې د ډیورنډ تړونونه د افغانستان شاهانو انګریزانو سره وکړل جدا کړی شوه،د افغان ولس هیلي دا وې چې د افغانستان د تني څخه چې کومه برخه په غیري قانونی ډول اخستل شوې ،د هند ویش په وخت کې بیرته افغانستان ته ورکړې ،چې په دې کار سره د افغانستان پخواني سرحدي پولې دبلوچستان ، اټک او چترال پوری بیرته تر لاسه شې او په راتلونکې به د افغانستان اوپاکستان ترمنځ سرحدی کړکېچ حل شویوي.

مګر کوم وخت چي د بریتاني استازې مونت بتن په برتانوي هند کې دهند دلوی وچې ویش پلان وړاندې کړو،نو په نوموړي طرحه کې دافغانستان څخه د اخیستل شوو،برخو په اړوند چې بیرته یې افغانستان ته ورکړي، یادونه نه شوې ، د افغانستان حکومت د انګلیس دا ډول استعماري او د غرضونو ډکه طرحه رد کړه او د انګلیس څخه یې د خپلې خاورې د بیرته ورکړې غوښتنه وکړه،انګلیس پدې بهانه چې نوموړی پلان د بریتاني د پارلمان د تصویب څخه تېره شوی،اوس د افغانستان د حکومت دا غوښتنه ناوخته ده او کېدای شی چه ددې ستونزې په اړونده په راتلونکي وخت کې سرحدي وګړو ته دا موقع ورکړل شي چې د یو ریفریندم له لارې د افغانستان او پاکستان ترمنځ کړکېچ ته د حل زمینه برابره شي، بلآخره د اګست په ۱۵ کال ۱۹۴۷م کي انګریزانو د هند ویش په دوه هیوادونو چې هند او پاکستان ترمنځ ده اعلان کړو،څرنګه چې د سرحد وګړو ته د ریفریندم له لاري دیو مستقل دولت جوړیدو ژمنه شوې وه،مګر هغه ریفریندم چې د انګلیس له خوا ترتیب شوي وه ، د رایو ورکولو لپاره دوه صندقونه چې یو دهند اوبل دپاکستان لپاره ایښودل شوی وه، د سرحد خلکو دا ریفریندم رد کړو او د رایې ورکولو څخه یې ډډه وکړه ځکه هلته دریم صندق موجود نه وه ،ترڅو دیو مستقل دولت د

جوړيدو لپاره رايه ورکړې واې،په دې صورت کې دوی مجبور وه چې د دريم صندق دنه موجوديت په صورت کې د خپل حق څخه تير شي او ځانونونه دهند او يا پاکستان پوری وتړی ،چې البته دا کار هغوی د تحمل وړ نه وه،ځکه انګليس ددې پلان مطابق دوه لوی قومونه بلوڅ او پښتانه د مستقل هويت او دولت څخه محروم کړای شول.

د سپتمبر په مياشت کال۱۹۴۷ م کې په ملګرو ملتونو سازمان کې د افغانستان اوپاکستان داستازو د انګريزانو د نوموړی ويش پرخلاف اواز پرته کړو ،په کوم کې چې دسرحد دخلکو راتلونکې په پام کې نه وه نيول شوي.

انګريزان چې د نړی په هره برخه کې د ماتې سره مخ شوي او هلته يې نور د پاتې کېدو امکان نه وی ، بيايې د ولسونو ترمنځ داسې شخړې پريښې چې کلونه کلونه ورته دحل لار نه پيداکيږی،تاريخ پدې ګواه دی ،کله چې انګليسانو دقيموميت دوره په فلسطين کې پای ته ورسېده ، نو هلته يې د اسرائيلو دولت د جوړيدو بنيادونه ټينګ اوغښتلی کړل او د وتو په وخت کې د اسرايئلو او د فلسطين ترمنځ کړکېچ پريښودو او کله چې د هند څخه وتل ، نو دپاکستان اوهند ترمنځ يې دکشمير دبحران تاداو کېښود اوهمدارنګه يې دپاکستان اوافغانستان ترمنځ د ډيورنډ دسرحدي کرښې لانجه پرځای پريښوده،دا د استعمار خصوصيات دی چې دنظامي يرغل دماتی په صورت کې بيا د ولسونو ترمنځ سياسي، مذهبي،ژبني او قومي شخړو ته لمن ووهي اودوی ترى خپلي پښې سپکې کړي ،د انګريزانو د نوموړی پلان دعملی کولو څخه وروسته دافغانستان او پاکستان اړيکي ورځ په ورځ په خرابيدو وي ، همدا تاوتريخوالی ددی لامل شو چې د جون په مياشت کال دداړو ګاونډ هيودونو ترمنځ اړيکي نورې هم خړې پړې کړی، د جولای په ۲۶ کال ۱۹۴۹م کې دافغانستان ملی شوری په يوه نايسته کې هغه تړونونه چې د انګليس لخوا دافغانستان دوخت په شاهانو په زور منل شوی وه رد او بی اعتباره وګڼل.

همدارنګه اکتوبر کال ۱۹۴۸م کې دسرحدی قبايلو او قومونو روڼ اندو او مشرانو د يو لويې غونډی په ترڅ کې دهند او پاکستان د ويش په اړوند دنګليس دا فيصله په سختو ټکو کې رد کړه ،دوی د خان عبدالغفار خان په مشری د پښتنو او نورو اونورو قومونو د اتحاد غوښتنه کوله او د پښتونستان په نامه يې د يو مستقل هيواد د جوړيدو لپاره مبارزه پيل ګړه . د افغانستان حکومت دپښتنو ددي حق تر شاه ولاړ وه، نو همدا لامل وه چې پاکستان د افغانستان حکومت په وړاندی ځينی تجارتی بنديزونه

ولګول شول چې ددی لاری د افغانستان ولس تر یو وخت پوری د ستونزو سره مخ وه او په سیاسي برخه کې د ډیورند د کرښې دمسئلې حل لاتراوسه پوری لانجمن پاتې دی چې کله کله زمونږ شرقي برخه کې د پاکستان او افغانستان ترمنځ ځینې پیښې رامنځ ته کیږي .

د بلې خوا که خپل شمالي ګاوند (پخوانی شوروي اتحاد ) ته وګورو نو دا یوه ښکاره خبره ده چې د تاریخ په اوږدو کې څه د تزاری روس او څه د بلشویکي رژیم د قدرت په دوره کې د افغانستان اړیکې لکه څنګه چي د نړیوال تعامل غوښتنه ده ښې نه وې ، نو شوروي هیواد سره زمونږ سرحدی شمالی کرښه د تالویک د امو دریاب ژورې برخي تاکل شوی،خو شوروي د نوموړی حریم څخه کله نا کله دیخوا ته پښې راغورځولی ځکه شوروي په دی راضی نه وه چې غربی نړۍ دی په خاص ډول امریکا دی د افغانستان کله چې په ۱۹۵۲م کې د ملګروملتونو متخصیصنو دافغانستان په شمالی برخو کې د تیلو د موندلو سروی پیل کړې ،شوروي وویل چې د خپل هیواد په جنوب کې د غرب فعالیتونه د خپلو ګټو په خلاف بولی ،دافغانستان حکومت د خپلو ملی ګټو په بناء د شوروي غوښتنو س پلاس کې وه،ستالین له یوخوا په خپل هیواد کې د کمونستي رژیم د مخالفینو په له منځه وړلو کې مصروف وه اودبلی خوا د نړیوالي جګړې څخه ورته پاتی اقتصادي ستونزو کې راګیر شوی وه ،نور د نظامي یرغل متره په کې نه لیدل کېده،همداوه چې د خپلو پلویانو په مرسته یې په افغانستان کې د یو پلوه په کمونستي پروپاګندا لاس پیل وکړو اود بل پلوه یې لږه کې قومونه د وخت د رژیمونو په وړندې راوپارول ،همدارنګه یې د افغانستان د وخت چارواکي د غرب سره د دوستۍ په نوم ټکول ، تر څو د ولسونو په منځ کې د غربي پانګوال سیستم په وړاندی نفرت پیدا شي او کمونستي اصولو ته ورنژدی شې.

شوروي هیواد دافغانستان پر چارواکو دا نیوکې هم کولې چې لږه کي قومونه په محکومیت کې ساتی اود هغوی حقوق نه ورکوی ،ددی سره سره دپښتونستان په نامه د پښتنو لپاره د مستقل هیواد د جوړیدو دعوه یې هم کوله،

اوهمدارنګه یې هغه افغانان چې د فیوډالي نظام د مخالفت له امله د هیواد څخه بیرون وه د هغوی سره ظلم اوتیری کیږی اوپه هیواد کې د خپلو حقوقو او ازادۍ حـق نه ورکول کیږی ،د وخت شوروي دا ټول څه د خپلو ګټو ته درسیدو په خاطر ویلي وه، نه د محرومو قومونو د حقوقو ترلاسه کولو په خاطر ، که د دوی دا ډول په رښتیا د ولسونو د ازادۍ او حق ته د رسیدو په خاطر وای ، نو شوروي ولې

**دمنځنۍ اسیا اسلامي هیوادونه چې شپیتو میلونو نفوس سره سره بیا هم د خپلو عقایدو او ازادیو څخه محروم شول او په میلنونو وګړي يي دخپلو ټاټوبو څخه هجرت ته مجبور شول او نن پورې د نړۍ په نورو هیوادونو کې د وطن په جدايي سوزي،خو حقیقت دادی چې څه امپریالیزم اویا څه کمونیزم تر هغه وخته د ولسونو سره د مرستی سینه ډبوي چې خپلی ګټي تر لاسه کړی.**

**د شوروي د نوموړو بیـانو اواعتراضونو څخه دا ښکاره معلومیده چې شوروي په افغانستان کې د یو پانګوال رژیم رانژدی کېدل په افغانستان او منطقه کې خپلو ګټو ته خطر ګڼلو . دبلې خوا امریکا په منطقه کې په خاص ډول د پاکستان سره ددوستۍ علاقه درلوده هغه په دي هدف چې پاکستان د یو اسلامی دولت په نوم کېدای شي یوه ورځ يې دکمونستي چېن په وړاندې د یو قوی د یوال پحیث استعمال کړي،پاکستان هم د امریکا ددې علاقی څخه پوره ګټه پورته کړه او په کال ۱۹۵۰م کې يې دامریکا څخه غوښتل چې پاکستان ته د کمونیزم د مخنیوی په خاطر خپل عسکر راولیږي،امریکا هم داسې یوه موقع د راتلو په انتظار کې وه ،همدا وه چې پاکستان ته يې اتومي ریکټور وسپارلو ، تر څو خپله اتومي پروژه پرې تکېمله کړی ، ددی تر څنګ امریکا په کال ۱۹۵۳م کې پاکستان ته نوی نظامي مرستې اعلان کړې او دا مریکا دا ډول مرستی چې د پاکستان د دولت سره يې شروع کړي، افغانستان يې د یو ډول تشویش سره مخا مخ کړی وه ، ځکه پاکستان څخه د یوقوی دولت د جوړیدو په صورت کې بیا د ډیورنډ او د پښتنو د لانجې دحل لار نوره هم اغزنه کېده ، چې همداسې وشول،نوموړی لانجه لا په خپل قوت پاتې ده.**

**په کال ۱۹۵۴م کې سردار داود خان چې دهغه وخت صدراعظم وه خپل ورور محمد نعیم خان يې دپوځي مرستو تر لا سه کولو په خاطر امریکې ته ولیږه ، سپیږنی مانۍ د افغانستان دې غوښتنې ته مثبت ځواب ورنکړو او د زیات وخت د تیریدو وروسته د امریکا د بهرنیو چارو وزیر د افغانستان غوښتنه په سیاسي ژبه په لاندې ټکو کې داسې ځواب کړه،د ډیر څیرنې او سوچ وروسته دا تصمیم ونیول شو چې پوځي مرسته به ستونزي رامنځ ته کړې ،افغانستان باید د وسلو د غوښتلو په عوض د پاکستان سره د پښتونستان دموضوع په اړوند ستونزه د خبرو له لارې حل کړی.**

**د امریکا خارجه وزیر د دغې پریکړي یو نقل د پاکستان دولت ته هم سپارلی وه ، چې د امریکا دی عمل د افغانستان چارواکي خواشینې کړي وه ، ددي علاوه په کال ۱۹۵۳م کي د امریکا درستزوال اداری هم یو راپور په لاندی ټکو نشر ته سپارلی وه [امریکا ته د افغانستان سوق الجیشی اهمیت**

دومره مهم نه دی ... د افغانستان جغرافیوی موقعیت دا حالات رامنځ ته کولای شی که نړیوال وضعیت ددی غوښتنه وکړی ،نو کېداي شي شوروي به افغانستان اشغال کړی .ددی وروسته د امریکا دجمهور ریس نیکسن مرستیال په کال ۱۹۵۴م کې افغانستان ته راغي ،چې د افغانانو له خوا ورته تود هرکلی وشو ،دافغانستان چارواکو هغه ته دافغانستان ستونزې ور په ګوته کړې او پر دې یې ترکېز وکړو چې امریکا دافغانستان په اړوند په خپله پالیسئ نوی نظر واچوی ، د امریکې دغه چارواکې په خپل ترتیب شوی راپور کې د افغانستان په مشکلاتو یادونه ونه کړه او افغانستان یې د امریکا د کمکو لپاره مناسب ونه کڼلو .

د بلی خوا په کال ۱۹۵۵م د اکتوبر په ۲۴ مه د بغداد پیمان چې اساس یې د عراق او ترکې له خوا کېښودل شو ،چې په لمړیو کې دا پیمان د(سنتو)په نوم یاد شو ، یو دفاعي پیمان وه چې د منځني ختیځ یا (منتو)په نوم هم ترې یادونه شوې،ولې تر کال ۱۹۵۹ع پورې د دبغداد پیمان په نوم شهرت درلود ، د نوموړی پیمان د رامنځ ته کېدو وروسته انګلیسانو او امریکایانو هر کلی وکړو،شوروي او د مصر جمهور رئیس جمال عبدالناصر دغه پیمان وغنده ، ځکه چې ددې پیمان له کبله د عربو په اتحادیه کې بې اتفاقي رامنځ ته کېده، انګلیستان ،پاکستان ، او ایران هم د پیمان غړیتوب تر لاسه کړو،غربي نړئ او په خاص ډول امریکا په دې هیله وه افغانستان به هم دې پیمان کې غړیتوب واخلي ،لیکن افغانستان د ځینو سیاسي مجبوریتونو پر بناء د خپل شمالي ګاونډ (شوروي) او ختیځ ګاونډ (پاکستان) سره یې درلود د (سنتو) په پیمان کې شاملد نه شو ، چې دې حالت د افغانستان او امریکا اړیکې نورې هم سړې کړې،د افغانستان د وخت صدراعظم محمد داود خان په دې لټه کې وه چې افغانستان د نړئ ددې دوه دښمنو هیوادونو چې یو بل ته نظامي او سیاسي برخو کي سنګرونه نیولی وه د یو ناپیلي هیواد په حیث ترې په لیرې واټن کې وساتی ،تر څو د دوې د نظامي اوسیاسي لوبو ډګر نشي.

افغانستان دنړی دنورو هیوادونو په څیر نه وه چې دشوروي څخه په لیرې واټن کې پراته وه بلکې افغانستان دشوروي سره په یو اوږده سرحدی ګډه پوله ژوند کوی چې هره ګړی د شوروي فتنو او دسیسو ښکار کېده ، دوخت شوروي د(کور،کالي ،ډوډئ)دشعار لاندې د دریمې نړئ په هیوادنو کې ډیر هیوادونه خپل کړی وه،په کال ۱۹۵۵ع کې یې دشوروي د رئیسه هیئت صدر خروشچف او بلګنین د افغانستان څخه لیدنه وکړه او د افغانستان سره یې سل میلونو ډالرو په مرستي خپله دوستي هم ټینګه کړه د جون ۲۴کال ۱۹۲۱ع کې چې دنه مداخلې او بې پریوالی تړون د افغانستان او شوروي تر منځ

لاس لیک شویوه، د لسو کلونو لپاره بیا وغزول شو ،گمان کېده چې دا تړون به د دواړو هیواد نو ترمنځ د ښه گاونډیتوب اعتماد او لازیاتو اړیکو دپرختیا لامل شی ،

ددې سره شوروي د پښتونستان په مسئله کې د افغانستان د دریځ پلوی هم وکړه ، چې شوروي ددی ملاتړ له امله افغانستان د ډیرو ستونزو سره لاس په گریوان شو ، ځکه د یوي خوا د شوروي د پخواني او اوسني دریځونو ترمنځ توپیر لیدل کېده اود بلی خوا په خپلو ژمنو کې ریښتونی نه وه ، دا هغه وخت وه چې محمد داود خان د پنځه کلن اقتصادي پلان د پلی کولو لپاره د امریکا څخه یوځل بیا د مرستو غوښتنه وکړه ، څرنگه چې شوروي د افغانستان سره نژدې او تودې اړیکې درلودي سردار داود خان يې هم د شوروي بلاک نژدې دوست گڼه ،نو په همدې بهانه چې افغانستان د خپل اقتصادي پلان په اړوند د امریکا سره مخکي مشوره نده کړې،د مرستي ورکولو څخه یې ډډه وکړه.

پدی وخت کې داود خان د هیواد په فوځي،اقتصادي او نورو ستونزو کې راگیر وه، ددې مشکل د حل لپاره يې په کال ۱۳۳۴کې یې تش په نامه لویه جرگه راوبلله ، جرگې پنځه ورځې داوم ومند ،چې په پای کې حکومت ته واک ورکړل شو چې خپل اقتصادي او تجارتي اړیکو ته د دوستو هیوادو په مرسته پراختیا ورکړی ،ددی ترڅنگ حکومت ته یې دا صلاحیت ورکړو چې دهر ځایه وی نظامي وسایل واخلی ،همدارنگه جرگې د پښتنو او بلوچو د راتلونکې ټاکلو او دهغوی دحقوقو څخه پلوی هم اعلان کړه، دلویې جرگې دا دریځ ددی سبب شو د افغانستان او پاکستان اړیکې نوری هم ترینگلې شی ، د افغانستان دولت د دوه زبر ځواکوانو د سیالیو له امله د دوه لارو پر سر حیران ولاړ وه ،بلاخره مجبور شو چې د نړي ددي دوه زبرځواکو څخه د یوه په لمن کې ځان وغورزوي ، همدا وه چې په کال ۱۹۵۶ع کې یې د شوروي او چکوسلواکیا څخه د وسلو رانیول پیل کړل، ددی تر څنگ د افغاني محصلینو څو ډلی د نظامي زده کړو لپاره چکوسلواکیا او شوروي ته ولیږل شو ل ،په تجارتی برخه کې د دواړو هیوادونو ترمنځ تجارت د ۱۰ فیصده څخه ۶۰ علاقه گی له امله وه چې افغانستان یې قصداً د شوروي لمن ته وراچولو او شوروي خپلو هغو موخو ته ورسیده چې کلونه کلونه یې په اړوند خوبونه لیدل،

شوروي په خپلو مرستو اقتصادي مرستو سره د دریمی نړۍ هیوادونو په ایډیالوژیکي او سیاسي برخه کې دځان تابع کړی وه ،افغانستان هم پدې فتنه کې راگیر شوی وه یانې د شوروي دسیاسي تسلط په حلقه کې ښکېل وه ، دا ټول هغه څه چې دافغانستان په اړوند دشوروي په خارجي پالیسۍ کې لیدل

کېدل ،هغه دامریکا دوخت دپالیسی زیړنده وه چې افغانستان ته یې په دې منطقه کې د سیاسي لوبو په ډګر کي دیو غیر ستراتیژیک هیواد په سترګه کتل ، افغانستان ته امریکا د نه توجو سره سره بیا هم امریکا ډیر وروسته خپلي داخلي او خارجي پالیسي مسیر ته تغیر وکړو او د افغانستان په ګټه یې یو نوی بدلون رامنځته کړو ، هغه دا چې دامریکا امنیتي اداري په کال ۱۹۵۷ع کې د افغانستان حالات وڅیړل او د خپلو څیړنو پایله یې دا سی نشر ته وسپارله((افغانستان دشوروي اتحاد د پورونو د درانه پنډ لاندې شوې چې په راتلوونکي کې یې حاکمیت اواستقلال ته ګواښ ګڼل کېږی ،افغانان پدې امید دی چې د دواړو هیوادنو(امریکا اوشوروي) څخه مرستي واخلی ،مګر دامریکا امکانات چې د جنوب ختیځي اسیا هیوادو ستونزې تنظیم کړي محدودې دی ، امریکا باید کوشش وکړې چې لمړی د افغانستان او پاکستان له کشمکش د حل لاره پیدا کړي ، افغانستان باید دي ته وهڅول شي چې خپل پوځي وسایل او تمرینونه چې د شوروي څخه یي ترلاسه کوي راکم کړي او د امریکا او نورو غربي هیوادونو سره دي خپلي اړیکي ټینګي کړي د امریکا امنیت د اداري دا ډول څرګندوني د خطر هغه سرو چراغونو لګلولو معنی درلوده ، چې امریکا باید ډیر ژر د افغانستان خواته پاملرنه وکړي ، ترڅو د شوروي په لمن کي یي د سقوط څخه مخه ونیول شي ، همدا لامل ؤ چي د افغانستان سره د ښو اړیکو د رامنځ ته کولو لپاره امریکا خپل سفیر افغانستان ته واستولو ، همدارنګه په ۱۹۵۸ م کال کي صدراعظم محمد داؤد خان هم امریکا ته سفر وکړو چي ددي راشي درشي په بنیاد افغانستان او امریکا په اړیکو کي نوي صفحه خلاصه شوه او حالات یي په دقیق ډول څارل تر څو په افغانستان کي د شوروي د زیات نفوذ مخنیوي وکړي ځکه دوي په دي پوهیدل چي د شوروي مرستي په راتلونکي کي په افغانستان او منطقه کي د امریکا ګټو ته ستونزي رامنځ ته کوي او په حقیقت کي یي د نفوذ دایره محدودوي ، نو ځکه امریکا د افغانستان اړتیاؤ ته پاملرنه وکړه او د کندهار هوایي ډګر د لویو لارو جوړول ، د هلمند د پروژي او د کابل پوهنتون د تعمیرونو جوړول شروع کړل چي په دي سره افغانستان د دریم ځل لپاره د سړي جګړي په جریان کي د شوروي او امریکا د سیاستونو د تطبیق ډګر وګرځیده او د نړی ددي دوو زبرځواکونو د تقابل محور شو او افغانتسان د دویمي جګړي وروسته د اقتصاد له پلوه په بهرنیو هیوادونو متکي شو چي په دي لړ کي د کاله ۱۲۰ میلونه ډالره پورونه یي په اوږو باریدل.

دا جوته خبره ده چي په دومره پیمانه خارجي کومکونه د افغانستان په څیر یو هیواد سیاسي استقلال ته صدمه رسوي ، او په داخلي او خارجي چارو کي د مداخلي لاري پرانیزي داهغه وخت ؤ چي

افغانستان او پاکستان اړیکي خړي پړي شوي وي او په کابل کي د یوي مظاهري په لړ کي د پاکستان په سفارت حمله وشوه او د هغه بیرغ ته یي اور واچاوه او پاکستان په مقابل کي پر افغانستان د تجارتي مالونو لاره وتړله ، په همدي هکله محمد داؤد خان پاکستان ته سفر وکړ ترڅو د پاکستان سره خپلي اړیکي ښې کړي ، د پاکستان د هغه وخت جمهور رئیس سکندر میرزا سره د اوږدو خبرو وروسته یي کومه ښه پایله ترلاسه نه کړه او خالي لاسونه راستون شو .

په کال ۱۹۶۱ م کي د هیواد اړیکي یو ځل بیا د داخله وزارت د یوه چارواکي د ځینو تورونو له امله چي په پاکستان یي لګولي وه خرابي شوي او د افغانستان قونسلګرۍ په پیښور او کویټه کي وتړ ل شوي او افغانستان خپل سرحدي پولي د پاکستان سره بندي کړي .

په کال ۱۹۷۷ م کي چي کوم اسناد د امریکا د باندنیو چارو وزارت له خوا خپاره شوي دا خبره ښکاره کوي چي د افغانستان صدراعظم مرستیال محمد نعیم خان امریکا ته سفر کوي او د امریکا د جمهور رئیس جانسن او د ایف کېندي څخه داغوښتنه کوي ، ددي لپاره چي د شوروي د زیات نفوذ څخه افغانستان وساتل شي نو باید د ایران له لاري څخه افغانستان ته د یوي ترانزیتي لاري په جوړولو کي ورسره مرسته وکړي مګر کېندي د نوموړي لاري د جوړیدو غوښتنه ونه منله ، بلکي په مقابل کي افغاني هیئت ته دا توصیه او لارښوونه وکړه چي د پاکستان سره خپلي اړیکي ښې کړي ، ترڅو ددی لاري مشکل د همدي پاکستان د خاوري څخه حل شي.

ددي لپاره چي د شوروي او امریکا سره د افغانستان اړیکي ښې شي محمد ظاهر خان په کال ۱۹۶۵ م کي دوه ځلي شوروي ته سفرونه وکړه په کال ۱۹۶۳ م کي یي امریکا ته سفر کړی ؤ ، تردي وخته پوري محمد داؤد خان تر یوه حده په دي وتوانید چي د امریکا او شوروي ترمنځ ناپیلتوب سیاست وساتي او د دواړو هیوادونو د مرستو څخه یي څه ګټې تر لاسه کړي، مګر د تأسف خبره داوه چي شوروي د امریکا سره د افغانستان په اړوند په ښکاره د صداقت اوخواخوږۍ لاپي وهلي مګر په پټه په دي لټه کي ؤ چي څرنګه وکړاي شي چي په افغانستان کي یو خپل پلوی رژیم رامنځ ته کړي ، لنډه خبره داچي د یوي خوا د افغانستان او پاکستان اړیکي خړي پړي وي او د افغانستان پر مخ تجارتي لاري وتړل شوي چي دا موضوع د ایران د پاچا په منځګړیتوب هم حل نه شوه  د بلي خوا د شاهي کورنۍ داخلي مخالفتونو ددي زمینه برابره کړه چي افغانستان  په یوه لاعلاجه بحران کي راګیر شي.

همدا لاملونه وه چي په کال ۱۹۶۳ م کي داود خان مجبور شو چي د صدارت د کرسی څخه استعفاء وکړي او افغانستان څنګه چي ؤ د پخوا په شان په داخلي او خارجي ستونزو کي مصروف پاتي شو او نړیوالو هریوه په خاص ډول د انګلیس د استعمار څخه د خلاصون وروسته د شوروي او امریکا د سیاستونو په پراخه ډګر بدل شو.

نو ویلاي شو چي افغانستان د خپل جیوپولیټیک او ستراتریژیک موقیعت له کبله د تیرو یرغلګرو د قوتو او په معاصره نړۍ کي انګلیس ، روس ، شوروي او امریکا خپلو ګټو او موخو ته د رسیدو په امید پري یرغلونه وکړل چا د خیز تختي په حیث او په منطقه کي د خپلو عیني ګټو محراق ګرځولی ؤ چي پایله داشوه چي تر نن پوري د تمدن او ترقی د کاروان څخه په لري واټن کي پاتي شو.

# پنځم څپرکی

## سړې جگړې پای او د هغې د ختمیدو عوامل

د سړې جگړې دپای په رابطه ډیر مهم او د یادونې وړ اقدامات په کال ۱۹۸۹ م کال کې دمالټا په ښار کې دنړۍ د ولسمشرانو غونډه وه چې په کې د روسې ولسمشر گورباچوف او د امریکا د متحده ایالتو ولسمشر جورج بش لیدنه کتنه درلوده ددغې سرمشریزی په ملاقات کې دواړو ولسمشرانو په جدي توگه وړاندیزونو او غوښتنې وکړي چې کوشش به کوی تر څو یو دبل په وړاندی په مختلفو ساحاتو کې تشنج او خړپړتیاوې کمې کړی لکه په منځنی ختیځ کې دشخړو تهدیدونه د کنترول لاندی راوستل .

د دغه غونډې په تعقیب سره په واشنگتن کې بله د نړۍ د ولسمشرانو غونډه په کال ۱۹۹۰ م کې دایره شوه ، پدغه غونډه کې یو شمیره توافقات او تعهدات وشوه چې دغه توافقات د هستوی ، او کېمیاوی او معمولی وسلو په باره کې وه ، او داسې تصمیم او فیصله وشوه چې دغه وسلې به په کال ۱۹۹۲ م کې تخریب ا و له منځه یوسی او تر کال ۲۰۰۰ م پوری به دغه پروسه او جریان پشپړ کړی ، د سړې جگړې پاې د سولیز گډ ژوند په بنسټ د یوی نوی دوري د ظهور او ښکاره کېدو او همدارنگه د زبر ځواکونو د متقابل تشنج او خړپړ تیا د پای په مانا ده ، یو تعداد عوامل ددې باعث شول چې دواړه زبر ځواکونه د چارو دغې حالت ته الله پامانی ووایي .

ددی عواملو څخه ځني يې په لاندې ډول دي :

اول – د جنگی تدابیرو مشاهده او افهام :

د سړې جگړې د پای د عواملو له جملی څخه یو مهم عنصرد دواړو زبرځواکونو تر منځ د ستراتیژیک احساس پیدا کېدل دي په دي معنی چې کله سړه جگړه پیل شو متقابله ویره رامنځ ته شو اوځرنگه چې ویره د زبرځواکونو ترمنځ دوسلو د تولید سبب کېده نو وسلی هم د ویری د راپیدا کېدو سبب شوی ، په همدې خاطر سره دواړو دولتونو د فوځی او نظامې قوت ډیر والی ته په دایمی ډول ژمن وه پدي شکل چې که یوه زبر ځواک به تخریبی وسله اختراع کړه نو بل زبر ځواک به ددغه وسلې په مقابل کې په بلی وسلی سره مبارزه کوله ، دغو وسلو مسابقی او سیالی ادامه پیدا کړه تر اخره پوری په دی و نه توانیدل چې یو په بل باندې تسلط او حاکمیت حالت حاصل کړی او داوړه و پوهیدل چې په دغه حالتو کې هیڅ یو نه شی کولای چې جگړه وکټي ، ځکه نو هغوی فیصله اوکړه چې دغه جنگ ته د پای ټکي کېږدی .

**دوهم – اقتصادي عامل :**

ځرنګه چې سړه جګړه د زبر ځواکونو د خپل منځي اختلافاتو او ناندریو پربنسټ د دوه دښمنو بلاکونو تر منځ د چارو د حالاتو څخه عبارت وه نو دواړه طرفه هیوادونو د وکالتی جنګونو په واسطه یو دبل شکست اوماتی ته ژمن وه .

دهمدې دلیل لپاره دواړو هیوادونو نظامي پرمختګ لپاره ډیری پیسي مصرف کړې نو دغې مسلې دهغوی اقتصادي حالت ته تر ډیر اندازی پوری صدمه ورسوله ځرنګه چه د دوی د بودیجی لویه برخه نظامي پرمختګونو باندې او متحیدو هیوادونو ته په کمک باندې مصرفیدله نو دوی ونشو کولای چه دولتی اقتصاد ته کافی توجه وکړی پدی ځای کې زراعتی برخه د نورو برخو نه زیاته صدمه لیدلی وه ،

دامریکا تولیدات ٪۷۵ فیصده څخه تر ٪۲۲ کم شول . د وګړو د ژوند معیار په ډیره لویه اندازه ټیټ شو ځکه نو هغوی فیصله او پریکړه وکړه چې سړه جګړه نوره ختمه کړی.

**دریم- د فوځی ځواک د کمید و پر اهمیت تکیه کول :**

ځرنګه چې د واړه زبر ځواکونو په هستوی توانایي باندې ډیری پیسی ولګولی چه تر ډیر اندازیي د هغوی اقتصاد متاثره کړه وه .

او حتی د شوروي اتحاد دریم اقتصادي قوت وګرځیدو ، اما د یو غټ او قوی قوت په حیث دجاپان په ظهور سره اودهغې قوی اقتصادي وضعې په نتیجه کې دواړه هیوادونه وپوهیدل چه نظامي قدرت نه بلکې اقتصادي قدرت دی چې د یو هیواد ملی قدرت او په نړیوالو اړیکو کې دهغې نفوذ سره کومک او همکاری کوی هغوی په دی و پوهیدل چه وکالتی جنګونه او نظامي اشغال پواسطه یې نشو کولای چه دافغانستان او ویتنام په څیر په بهرنیو هیوادونوکې خپل اهداف او ګټی تامین کړی .

ځکه نو هغوی فیصله اوکړه چه د سوداګری ، علمی او ټکنالوژیکي پرمختګ له لاری خپل نفوذ زیات کړی .

**څلورم – په اروپا کې د امریکا د متحده ایالاتو د رول کم والی :**

کله چې شوروي اتحاد قواوې په ختیځې اروپا کې وی ، امریکا په اروپایي چارو کې مهم رول تر سره کاوه دغه اروپا هیوادونو امریکا څخه ډیر مالی کمک تر لاسه کوه ، اما کله چې شوروي اتحاد قواوی د ختیځې اروپا څخه په شاه شوی اروپایي هیوادونو د امریکا کمک ته نور ضرورت نه درلوده او تعهد یې وکړ چې خپل امور خپله کنترول کړی او د شوروي اتحادی د نه شتون په صورت کې اروپایي هیوادونه نور حاضر نه وه چې د امریکا تر نفوذ لاندی وی او ویې غوښتل چې د امریکا د کنترول څخه بیرون ووځی ، همدارنګه ناټو چې د کمونستی توسعی او پراختیا د سرکوب کولو لپاره تاسیس شوی وه او د امریکا د هدایت او لارښونې لاندی وه نو اروپایانو وغوښتل چې ناټو ته داسې شکل ورکړی

**چې دوی وکولای شی دهغې رهبری وکړی دغه ددی سبب شو چې به سمیه کې د امریکا رول کمه شی .**

**پنځمه – بی هدف زحمت او بار :**

**دواړو زبرځواکونو تر ملاحظی وړ پیسی مصرفولی تر څو خپل نفوذ زیات کړی او هغوی خپلو متحدینو ته نظامي مرسته ورکولي او وکالتی جګړې یې کولی اما ډیر ژر وپوهیدل چې هغوی خپلو اهدافو ته نشی رسیدلی ځکه چې هغوی نشوای کولای چې خپلو متحدینو مشکلاتو ته په ښه ډول رسید ګی و کړی مثلا په اروپایې چارو کې د امریکا سلطی لپاره فرانسه چلنچ وه ، په کمونستی بلاک کې ډیر انقلابونه وشول نو همدې املونو ته په کتو سره دواړو طرفو او غوښتل چې سړه جګړه ختم کړی .**

**شپږم – په شوروي اتحاد کې د ژوند ټیټ معیار :**

**روسانو د خپلو متحدینو دفاع لپاره کافی اندازه وسله درلوده خو شوروي اتباعو نظر امریکایانو ته د ژوند ټیټ معیار درلوده ، ځکه نو شوروي حکومت وغوښتل چې دغه معیارونه په داسې ډول تقویه کړی چې دخپلو خلکو لپاره په ډیره ښه توګه د ژوند کولو اسانتیا وی برابر کړی .**

**اووم – قیادت او مشری :**

**مشر تابه عنصر هم سړې جګړې ختمیدو کې مرسته کړی ده په دی برخه کې ډیر مهم ګورباچوف وه ، ګورباچوف دګلاسنوسټ(اقتصادي بیارغونه) او پیر سترو یکا(سیاسي خلاصه فضا) په واسطه اقتصادي او سیاسي ازادای راوستله ، ګورباچوف د څو اروپایې هیوادونو لکه پولینډ ، هنګری ، چکوسلواکیا او دنور ځخه قواوی وویستلی او په هم دی هیوادونو کې ډیموکراسی نظام شورع شو په همدې خاطر د ګور باچوف په واسطه رامنځ ته شوواصلاحاتو د شوروي اتحاد په تجزیه اوهمدارنګه دسړې جګړې په پای منتج شو .**

# پــایلـه

**په نتیجه کي ویلاي شو سره لـدې چې سړه جګړه پای ته ورسیـده ،ختیځ بلاک وپاشـل شو او دشـوروي امـپراطـوري په پنځـلسو برخو وویشل وشوه ،خـو بیا هم نړیواله سـوله او امـن ټینګ نه شو او جنګونه اوشـخړې شته ،دولـتونه او مخالف سازمانونه هڅې کوی له نظامي ځواکونو په کار اخیستو او زور له لارې په نړیوال سیاست کې  خپلو اهدافو ته ورسیږی.**

**د تیروڅلورو لسیزو په زیاته موده کې د سړې جګړې حیرانونکې تاثیرات اواغیزې په ټوله نړی وی که څه هم دغه جګړه په تیزه او په نسبتی توګه بې وینو پای ته ورسیده ،دغه وکالتې جګړه امریکا متحده الاتو ته ۸ ترلیونـه ډالره فوځی مصارف اوپه کوریا اوویتنام کې قابو ۱۰۰۰۰۰  امریکایانو د ژوند په بیه تمامه شوه ،او شوروي ته هم په اقتصادي اوځاني برخه کې د امریکا متحده ایالاتو څخه په زیاته اندازه کې د ملی ناخالص تولید د زیان اوتاوان په ارزښت سرته ورسیده ،اوپه جنوب ختیځه اسیا کې محلې کورني جنګونه  د زبرځواکونو په سیالی سره شدید او سخت شول اوپه میلونونه خلک یې تر شاه مړه پریښودل.دسړې جګړې پای شوروي ته ددی موقع په لاس ورکړه چه خپل فوځي مصارف د یوې ډرامی په شکل راکم کړی خو نظام یې د ځنکدن ټکان او جټکې خوړلی ، بې کاري په ټوله روسیه کې خپره وه چه میلونونه وګړی یې بې کاره اوبې رزګاره شول،که څه هم پدی وروستیو کلونو کې یې اقتصادي وضعه یو څه ورغول شوه،په ۱۹۹۰م شوروي اقتصادي نزول سخت وځوروه ددی دغه ځوریدل دامریکا متحده ایالاتو او د جرمني څخه چه شپږه لسیزي دیو لوی خفګان او اقتصادي رنځ سره مخ وه هم زیات وه تیری سړې جګړې دامریکا متحده ایالاتو رول په نړوال اقتصادي او سیاسي ډګر کې بنسټیزاواساسې کړ مثلاً په کال ۱۹۸۹م کې د امریکا دمتحده ایالاتو دنړی په ۱۱۷هیوادو کې ۱.۵میلونه امریکایي ځواکونه ځای پرځای وه. د سړې جګړې دایموالی او سیالی د وخت پیچلی فوځی صنعت نور هم ژمن کړو چه په نړیوالی سطحی سره د زبر ځواکونو تر منځ اقتصادي او سیاسي خړپړتیا وی زیاتی کړی چه دی کار ته دریمه نړی ډیره ځیرپاتی شوه ، او همدارنګه دسړې جګړې په نتیجه کې په نړۍ کې ډیر بدلونونه را منځ ته شول لکه نړۍ په دوه برخو ووشل شوه یعنی کپټالیستی او کمونستی باندې ،د اټومی وسـلو زیاتوالی رامنځته شو ، د زبرځواکونو ترمنځ په هر برخه کې رقابت ،فضایي سیالی رامنځ ته شوي ، په نړۍ کې واړه جنګونه پیښ شول چه تر شاه یې دغه زبر خواکونه وه،او د WARSAW ، OAS، SEATO، NATOپه نومونو تړونونو رامنځ ته شول.**